## الدرس الرابع
## من علامات قيام الساعة

## څلورم درس
## د قيامت بعضي علامې

١= الله سبحانه وتعالى دا جهان د هميشوالى دپاره ندي پيداء کړی بلکه يوه ورځ به راشي چې دا هرڅه به ختم شي بس دغه ورځ د قيامت ورځ ده ، او دا داسې حقيقت دی چې انکار ترې نشی کيدلے، الله تعالى فرمائيلى دی:[إِنَّ السَّاعَةَ لَآتِيَةٌ لَارَيْبَ فِيهَا وَلَـٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ] {غافر:٥٩} ترجمه: يقينا قيامت خامخا راتلونکی دی هيڅ شک پکښې نشته، ليکن اکثر خلق ايمان نه راوړی ،بل ځائی کښې الله تعالى فرمائي :[وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَا تَأْتِينَا السَّاعَةُ قُلْ بَلَىٰ وَرَبِّي لَتَأْتِيَنَّكُمْ](سبا: ٣) ترجمه: يقينا هغه کسان چې کفر ئے کړی دی ، وائی قيامت به مونږ ته نه راځی، ورته ووايه ! ولے نه (خامخا به راځی) ، په رب مے دِی قسم وی چې خامخا به راځی، قيامت ډير نزدی راغلی دی ، الله تعالى فرمائی : (اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ) (القمر: ١) ترجمه : قيامت نزدی شويدی الله تعالى فرمائی : [اقْتَرَبَ لِلنَّاسِ حِسَابُهُمْ وَهُمْ فِي غَفْلَةٍ مُعْرِضُونَ]{الأنبياء:١} ترجمه : نزدی شوی دی خلقو ته حساب د هغوی او دوی په غفلت کښې مخ اړونکی دی، دا نزدی والے د انسانی عقل او سوچ نه اُوچت دی، د الله تعالى د علم غيب سره تعلق لری ، او د دنيا چې څومره عمر تير شويدی د هغی په نسبت سره نزدی دی، د قيامت علم الله تعالى مخلوق ته ندی ورکړی، الله تعالى فرمائی : [يَسْأَلُكَ النَّاسُ عَنِ السَّاعَةِ قُلْ إِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللهِ وَمَا يُدْرِيكَ لَعَلَّ السَّاعَةَ تَكُونُ قَرِيبًا] {الأحزاب:٦٣} ترجمه : د قيامت په باره کښې دا خلق ستا نه تپوس کوی ، ته ورته ووايه چې د قيامت علم خو صرف د الله تعالى سره دی، او تاته څه پته ده کيديشی قيامت نزدی وی ، رسول الله ﷺ د قيامت بعض علامات تفصيل سره بيان کړي دي ،

**د مسيح الدجال راتلل** :د ټولو نه غټه فتنه دخلقو دپاره د دجال راتلل دی ، پدی اعتبار سره چې الله تعالى ورله د بعض غير فطری کارونو کولو قدرت هم ورکړی دی چې خلق به پری ډير دهوکه کيږی، مثلا هغه به آسمان ته حکم وکړی نو باران به وشی ګياګانړۍ او فصل ته به حکم وکړی هغه به رازرغون شی، او مړو لره به ژوندی کوی نو داسې د معجزی پشان کارونه به کوی ، رسول الله ﷺ فرمائيلی دی : چې هغه سره به جنت او جهنم وي ، د هغه جنت به حقيقت کښې جهنم وی ، او د هغه جهنم به حقيقت کښ جنت وی ، او په زمکه کښې به صرف څلويښت ورځې ژوند کوی يوه ورځ به د هغه د يو کال پشان وی ، بله به د يو مياشت په مقدار، او بله به د يوی هفتې برابر وی ، او نوری ورځې به د عامو ورځو پشان وی ، هغه به د مکے مکرمی او مدينی منوری نه علاوه ټوله دنيا کښې ګرځی .